مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۷/۱۷

# غزل

شهدو، شکرو نه قربان نه شومه
زوړند په شونډو د جانان نه شومه

نن مې ژوندی ساتي سبا مې وژني
زه تر سبا په اطمينان نه شومه

په جنازه مې خاورې وانه ړوئ
که مړ په خاوره د افغان نه شومه

سينه مې سپر کړه د دښمن غشو ته
غم کښې د ځان او د درمان نه شومه

سرې شونډې بيه د سرو وينو لري
څوک وايي تېر ورله د ځان نه شومه

زه پسرلی يې په سوال هېڅ نه غواړم
که يې منونکی د تاوان نه شومه

مصطفی پسرلی
17/07/2019



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ